تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

ډاکتر لمر

# د ثور کمونیستي غوبل او د افغانستان تلپاتې غمیزه

(لومړۍ برخه)

د کمونیستي او اسلامي غوبل بهیر دا دی له دېرشو کلونو واوښت، خو افغان ولس لا تر اوسه په وینو کې لمبېږي، افغانستان د بهرني ښکېلاک د سیالیو ډګر دی او افغانان په یو او بل نوم وژل کېږي. درنو هېوادوالو د دغه ځوړ کرښو په لیکلو سره غواړم ستاسو پام ځینو هغو غیر افغاني هلو ځلو ته راواړوم، چې په افغانستان کې د افغانستاني نومي وګړو، بې تفاوتو پښتنو او بهرنیو یرغلګرو لخوا تر سره کېږي، چې کمونیستي ګوندونه، اسلامي تنظیمونه او امریکایي لاسپوڅي تکنوکراتان یې بنسټیز لوبغاړي ول او دي.

که موږ د افغانستان وروستۍ نیمې پېړۍ ته ځیر شو، نو په دغه هېواد کې د تش په نامه د دیموکراسي په دوره کې (وروسته له ۱۹۶۰ کلونو څخه) ځیني ګوندونه جوړ شول، چې ځینو کمونیستي او ځینو یې اسلامي شعارونه درلودل، خو دغه ګوندونه نه کمونیستي ول او نه یې هم اسلامي څرک درلود، ځکه چې په دغه ګوندونو کې یو شمېر غړي له ایران سره د لېوالتیا پر بنسټ راټول شول، چې د پان-ایرانیزم ولولې یې ژوندۍ ساتلې دي، چې موخه یې د خپلو جوبونه ډکول او د خلکو او ټولنې بربادول دي او یا هم تش په نامه پښتني ګوندونه را منځ ته شول، چې د پښتنو او افغانیت هېڅ څرک هم پکې نه لېدل کېده او پښتانه یې د ورکېدو له ګواښ سره مخامخ کړل.

افغاني دیموکراسي په ۱۹۷۸ کال کې خپل لوړ پوړ ته ورسېده، چې پایله یې د هېواد بربادي او د هېوادوالو بدمرغي شوه. په ۱۹۷۸ م کال کې یو شمېر کمونیستي ګوندونو وکولی شوای، چې د یوې له وینو ډکې نظامي کودتا په ترڅ کې واک ترلاسه کړي، چې د شهید سردار محمد داود خان او د هغه د کورنۍ لړ تر لړه اویاوو غړو په وژنه تر سره شوه او د افغاني ټولنیز ژوند د بربادۍ لومړۍ پېلامې یې رامنځ ته کړې، نو درنو لوستونکو موږ هم کولی شوچې د افغانستان د وروستیو دېرشو کلنو د ناخوالاملونه د کمونیستي ګوندونو او اسلامي تنظیمونو او امریکایي تکنوکراتانو په فعالیت کې راوسپړو، د هغوی غیر افغاني هلې ځلې وڅېړو او د واکمنو لېوالتیا یوه او بل اړخ ته څرګند کړو.

## کمونیستي اوښتون

د ۱۳۵۷ کال د غوییي اوښتون کومه ناڅاپي پېښه نه وه، د خلک دیموکراتیک ګوند د روسانو په سپارښت او ملاتړ خپلې هلې ځلې د ۱۳۴۳ لمریز لېږدیز کال د جدیې له ۱۱ څخه پیل کړې وې، چې د رفیق ببرک کارمل او ملګري

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، تولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

نورمحمد تره کي د خپلمنځیو شخړو په ترخ کې د یموکراتیک ګوند په دوو څانګو (خلقي او پرچمي) وویشل شو او د غوبي د غمیزې په درشل کې رفیقان او ملګري په کمونیستي او انترنسیونالیستي د سیسو کې ښه پاخه شول، چې خپل مهارت یې وروسته له خلقي کودتا خلکو او نړۍ ته څرګند کړ.

په دې اړه د ګڼشمېر لیکوالو لیکنې هم خپرې شوې دي، چې هر یو لیکوال د خپل لید په وړانګ کې د افغانستان غمیزې سپړلي او یو شمېر کمونیست ډوله لیکوال د کمونیستانو په واکمني کې ډېرو پېښو ته یو څانګړی تحلیل ورکوي، چې لوستل یې زما په ګومان اړین برېښي، د یو شمېر لیکنو تحلیلونه ډېر د پام وړ دي، لکه چې یو لیکوال لیکي: (پرچمیان او کارملي ډوله خلقیان د KGB اجنټان ول، خو بیا لیکي چې د **۱۳۵۲** کال د جوزا په میاشت کې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سفارت د هڅو او ټینګار له امله نومورې دوې ډلې «خلقیان او پرچمیان» یو ځای شوې) ، نو درنو لوستونکو له دغو کرښو څرګندېږي، چې خلقیانو او پرچمیانو لا له سرې غمیزې مخکې د روسیې ډول ته نځېدل ! د پښتو متل دی چې وایي: خړ سپی د لېوه ورور دی !

په یوه لیکنه کې د دیموکراتیک ګوند د جوړښت وړاندیز په ځانګړي ډول کېږي، خو ما ته د ښاغلي لیکوال فکري بهیر ډېر په زړه پورې دی او دا لاندې کرښې مې ولوستې (یو سیاسي ګوند سیاسي موخو ته د رسېدلو وسیله ده. که ولس خپله دا وسیله ولري او په شاوخوا یې راټول شي، نو بیا کولای شي نه یوازې له واقعیتونو نه خبر شي، بلکې واقعیتونو ته په خپله ګټه تغیر ورکړي !). درنو هېوادوالو په دې اړه زه نور څه نه وایم، مګر تاسو ته سپارښت کوم، چې د سورمخو یا سورلنډیو لیکنې تل ولولی، چې په څه ډول دغه بدمرغي سره لیکوال د سرې غمیزې محرکه قوه د خلکو ذهنونه مغشوشوي او واقعیتونو ته په خپله ګټه سور شال وراغوندي.



مخکې له کودتا څخه د کمونیستانو یو مشر (میر اکبر خیبر) ووژل شو د هغه مړینه د سرې غمېزې د رامنځ ته کېدو پلمه وګرځېده. د میر اکبر خیبر مړینه ډېره مرموزه وه، خو قدوس غوربندي په خپل یو کتاب کې (نګاهې په تاریخ حزب دیموکرتیک خلق افغانستان) د هغه په مړینه کې د ببرک کارمل او د نور احمد نور د لاس لرلو یادونه کړې، خو ځیني نور بیا د ګلبدین حکمتیار اسلامي ګوند د هغه په مړینه کې ښکېل ګڼي.

داسې څرګندونې هم کېږي، چې مخکې له سرې غمیزې سردار محمد داود خان ځینو ټولنیزو نوښتونو ته ملا تړلې وه، چې د بهرنیو هېوادونو له سفر څخه د راستنېدو سره یې سم په دولتي چارو کې د بدلونونو ګواښ وکړ او ځینو

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، نوښیزه او فرهنګي ویب پاڼه

لوړپوړو چارواکو ته یې دنده وروسپارله چې د دولت په پیاوړولو کې خپلې هلې ځلې چمتو کړي. د دغه پروګرام یوه برخه له کمونیستي ځناورانو د ټولنې پاکول ول، نو د داود خان د دفاع وزیر (غلام حیدر رسولي) په نوبت د مېر اکبر خیبر او نورو کمونیستانو د ورکولو پلان جوړ شو.

یو ولي محمد نومی منصبدار، چې د ۸ فرقې د ۳۲ غونډ قوماندان ؤ او مخکې له دې دندې د سردار محمد داود خان د صدارت په موده کې د کابل د ګارنیزیون صاحب منصب ؤ، دغه ولي محمد هم د میر اکبر خیبر په مړینه کې تورن ګڼل کېږي. د ځینو نظامي چارواکو په نغوته داسې جوتېږي، چې ولي محمد ۱۵ دقیقې مخکې له دې چې خیبر مړ شي له خپلو محافظینو سره یو ځای له ټولي وتلی ؤ او د میر اکبر خیبر د وژنې په سیمه کې لیدل شوی ؤ، چې وروسته د میر اکبر خیبر له مړینې بیرته ټولي ته راستون شوی ؤ. داسې ویل کېږي، چې ولي محمد د مېر اکبر خیبر په مړینه کې لاس درلود او داسې څرګندونې کېږي چې ولي محمد د رسولي (د سردار داود خان د دفاع وزیر) ځانګړی نفر ؤ، چې د داود په واکمنۍ کې یې د رسولي په ښوونه د ځینو اشخاصو په وژلو یا ترور کې لاس درلود.

د مرحوم میر اکبر خیبر د مړینې پېښه لا نه ده څېړل شوې او د افغانستان د تاریخ د روښانېدلو لپاره یوه اړینه موضوع ده، ځکه چې کمونیستانو هم دغه پېښه د ۱۹۷۸ کال له اوښتون څخه وروسته ونه څېړله او د هېرېدو کندې ته یې ورواچوله. داسې څرګندونې هم کېږي چې ګواکې د میر اکبر خیبر په مړینه کې روسانو او KGB لاس درلود، نو ځکه افغاني کمونیستانو دغه پېښه تر ننه پټه وساتله او هېڅ او هېڅ کومې بلې ډلې هم دغه پېښه ونه څېړله او ټولو غوږونه کاڼه پرې واچول، مګر د افغانستان د راتلونکي نسل لپاره دغه پېښه یو تاریخي ارزښت لري.

د افغانستان د پېښو وروستي دېرش کلونه د دغه پېژندل شوې سیاسي څېرې له مړینې سره راپیل شول، خو زما په ګومان مرحوم میر اکبر خیبر د افغانستان یوازینۍ سیاسي څېره ده، چې لاسونه یې د افغان ولس پر وینو نه دي لړل شوي او د دغه شخصیت د تلپاتې کېدو لپاره باید افغاني چارواکي د دې هڅه وکړي چې د دغه افغاني شخصیت سیاسي هویت وسپړل شي او د افغانستان د تاریخ پاڼو ته وروسپارل شي.

ډېرو کمونیستانو هڅه کړې چې د ځان د سپیناوي لپاره یو څه ولیکي، خو ټولې پېښې په منحرفه بڼه لیکل کېږي او دا څرګنده خبره ده چې د وروستیو دېرشو کلونو د غمېزې مسؤلین افغاني کمونیستان، افغاني اسلامیستان او افغاني تکنوکراتان د افغانستان په فکر کې نه دي، مګر د خپلو جنایتونو په پټولو او ورکولو بوخت دي او هڅه کوي د وروستیو ۳۰ کلونو افغاني ناورین پړه په یو او بل واچوي، چې د افغانستان د وګړو ذهنیتونه مغشوش کړي.

ګنشمبر لیکوال په خپلو لیکنو کې د غویي د اوښتون په اړه ډېرې په زړه پورې څرګندونې کوي، چې د غویي د غمیزې په سیاسي برخه کې یو لیکوال داسې لیکي: (په سیاسي ډګر کې د ثور انقلاب د دولتي قدرت واکې له سلطنتي کورنۍ نه د ټولنې د عامو خلکو استازو، خلقیانو ته ولېږدېدې او د شهزادګانو میراثي رژیم یې داسې دړې وړې کړ، چې بیا هېڅکله په پښو ونه درېد. دا چې اوس هم د شاهي نظام پر ځای جمهوري نظام دی دا هم د هغه ژور

تل افغان
www.talafghan.com
خبرونه، تاریخ، لیکنې او فرهنګي ویب پاڼه

بدلون نتیجه ده، چې د ۱۳۵۷ کال د ثور په ۷ نېټه منځ ته راغلی)، خو زه پوه نه شوم چې خلقیانو د سردار محمد داود خان جمهوري نظام له منځه یووړ او که د مرحوم اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پادشاهي یې ختمه کړه؟ درنو وروڼو ځومره چې ما ته د افغانستان تاریخ مالوم دی، نو سردار محمد داود خان د افغانستان د لومړني جمهوریت بنسټ اېښودونکی دی، خو داسې ښکاري چې یو شمېر لیکوال خپل سیاسي شعار ته (د سیاسي ګوند په مرسته نه یوازې له واقعیتونو نه خبر شی، بلکې واقعیتونو ته په خپله ګټه تغیر ورکړي!) وفا دار پاتې شوي دي، سترګو ته خاورې شني او زه هم د قلم برې ورته له لویه خدایه تمه کوم، ځکه په لیکنو کې د رېښتیا ځرک موندل کېدی شي.

د یادونې وړ ګڼم چې کمونیستانو د سردار محمد داود د کورنۍ لږ تر لږه اویا تنه غړي ووژل او د هغه د کورنۍ واړه ماشومان یې هم له تېغه تېر کړل. په دې اړه مې په بربښنا پاڼو کې یوه لیکنه ولوستله، چې ګواکې دستګیر پنجشېري د هغه د مړینې امر ورکړی ؤ، خو باید یاده شي چې دستګیر پنجشېری هغه ګېډړ ؤ، چې د امین او تره کي د شخړو په وخت کې په مسکو کې ناست ؤ او په خپل فرکسیوني ګوند کې یې پرته له خپل زویه او ورور شخه بل ځوک نه درلودل او لکه د تړؤ مچ په هره کتوه کې به لاهو ؤ. کله چې د پنجشېري اېرتې واورې، نو یوه ټوکه دې په یاد شي: وایي چې یوه ورځ ګڼشمېر ماران په مزل تلل، خو د دوی په منځ کې یو چومجی (چنجی) هم ؤ، خو کله به چې ماران یو ځو متره وښخېدل، نو چومجي به سر پورته کړ او ناره به یې کړه، چې موږ ماران چېرې ځو! نو درنو هېوادوالو دغه پنجشېري چومجی هم اوس د مارانو کانې کوي، خو دا هغه بدمرغه لیونغرتی ؤ، چې زور یې په بې وزله خلکو رسېدلی ؤ او ګڼشمېر معلمین او متعلمین یې د خپلې کمونیستي واکمنې په موده کې له تېغه تېر کړل. شک هم نشته چې دغه ځناور د سردار محمد داود او د هغه د کورنۍ د وژلو امر هم ورکړی وي، چې خپلو بادارانو ته یې کمونیستي انترناسیونالیستي غوړه مالي کړې وي.

د شهید داود خان د مړینې په برخه کې داسې ویل کېږي، چې د امام الدین نومي منصبدار لخوا وژل شوی دی او یو روسي جنرال په خپل یو کتاب کې لیکي، چې د مرحوم ډاکټر نجیب الله څخه یې اورېدلي ؤ، چې د سرې غمېزې د کودتا په ورځ د خلکو د دیموکراتیک ګوند مرکزي کومېټې لا پرېکړه نه وه کړې، چې امام الدین غونډې ته ننوت او وېې ویل چې د سردار محمد داود ټوله کورنۍ یې وژلې ده او د ګوند پرېکړې ته اړتیا پیدا نه شوه.

درنو هېوادوالو! له نېکه مرغه وروسته له دریو لسیزو د سردار محمد داود قبر هم وموندل شو، د سردار محمد داود سپېڅلی نوم بیا د افغانستان په تاریخ کې په نېکه یاد شو او خلکو خپل متدین، په هېواد مین واکمن او زړه سواند لاربنود په درنښت په کابل کې خاورو ته وسپاره او د افغانستان د تاریخ زرینې پاڼې یې بشپړې کړې، ځکه چې سردار داود په افغانانو د دې حق لري، چې په حرمت سره یاد شي او مقبره یې د هر افغان لپاره د تاریخ یادښت دی، راتلونکي نسل ته د مېړانې ځلی او د هېوادپالنې مشال دي.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه



## خلقــي تره کــي واکمنــي

داسې ویل کېږي، چې د دغه ګوند ګنشمېر غړي او د کودتا لوبغاړي پښتانه ول، خو کله یې چې د غوبیي له غمیزې سره سم واک تر لاسه کړ، نو د پښتو او پښتنو پر ځای یې سوسیالیستي انترناسیونالیزم غوره وګاڼه، چې د دغه دریځ پایله د زرهاوو ملي خلکو وژنه وه، چې په ځینو خپرونو او د صدیق فرهنګ په کتاب کې (افغانستان در پنج قرن اخیر) کې داسې څرګندونې کېږي، چې د خلقیانو د لومړي کال د واکمني په ترڅ کې لږ تر لږه ۲۰۰۰۰ انسانان وژل شوي او په زرهاوو خلک بندیان او تریټام شوي دي، خو کمونیستان بیا وایي، چې په افغانانو هېڅ ظلم نه دی شوی، نو ښه ویل شوي چې څمکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي!.

د سرې غمیزې د مسؤلینو د دغه غیر انساني او غیر افغاني دریځ په ترڅ کې د واکمنو او وګړو تر منځ واټن رامنځ ته شو او غیر افغاني یانې افغانستانیانو ته یې لاره هواره کړه، چې خپل ګوندونه او غیر افغاني هلې ځلې د بهرنیو یرغلګرو په سپارښتونو پیاوړي کې، چې په افغانستان کې ټولنیز انارشیزم رامنځ ته کړي.

د خلقیانو د یوه کال د واکمني په بهیر کې د هرات پاڅون، د ننګرهار او جلال آباد پاڅون، چې د جنرال سید عبدالغني وردګ په لارښوونه تر سره شوی ؤ، د کونړ (کیرالي) پاڅون چې د هېوادپالو پښتنو لخوا سمبال شوی ؤ چې د سیمې ټول مشران لږترلږه ۴۰۰ تنه یې په خلقي بمباري کې ووژل شول، د کابل د بالاحصار او ریشخور پاڅون چې د هېوادپالو منصبدارانو لخوا سمبال شوی ؤ، د دولت آباد پاڅون چې عظیم ببګ یې مشري کوله، د بامیان پاڅون چې د خلقي والي سید احسان الله په وژنه پای ته ورسېد او په ټول هېواد کې د مجاهدینو پاڅون د افغانستان د تاریخ د آزادي پاڼې رنګینې کړې دي.

د خلقیانو په واکمني کې، نه دا چې خلک له خلقیانو په عذاب ول، خو خلقیانو په خپل وار سره په خپلو کې هم شخړو ته مخه کړه، چې پښتو او پښتانه یې د خپلو سیاسي هوسونو په سیلابونو کې لاهو کړل او افغانستانیانو د خپلو بهرنیو مشاورینو په مرسته خلقیان لکه چرګان وجنګول، چې پایله یې د مرحوم نورمحمد تره کي وژنه او د هغه د سیال مرحوم حفیظ الله امین واک ته رسېدل ول. د دغه (برادرکوشي) په ترڅ کې نور پېژندل شوي خلقیان لکه سید محمد ګلاب زوی، اسلم وطنجار، سروري او داسې نور د روسیې سفارت ته وتښتېدل او دستیګر پنجشېرې په

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، تولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

مسکو کې مورچل شو، په روسي ښوروا او بورش روږدی شو او له روسانو سره یې د روسي یرغل لپاره د زړه له کومې چوپړ وکړ.

داسې ویل کېږي، چې د حفیظ الله امین د واکمنۍ په موده کې ځینې خلقیان په تابوتونو کې روسیې ته لېږدول شوي ول، خو داسې څرګندونې هم کېږي، چې ګواکې سید محمد ګلاب زوی ټینګار کوي، چې هغوی په افغانستان کې ول او دا خبره دروا غګنې، په هر ډول چې وي، که دوی د روسیې په سفارت کې ساتل شوي ول او یا مسکو کې بیا هم د روسانو په ولکه کې ول. باید یاده شي چې د روسیې سفارت هم د روسانو د واکمنۍ ټاټوبی ؤ، چې ګڼشمېر خلقي کمونیستان د حفیظ الله امین د واکمنۍ په موده کې د روسیې په سفارت کې ساتل شوي ول.

## خلقـــي امینـــي واکـمـنـي

مخکې له دې چې د مرحوم حفیظ الله امین د واک ته رسېدلو په اړه څه ولیکل شي، نو اړین بریښي، چې ځینې پېښې یادې شي. د انقلاب په پیل کې د پرچمیانو او خلقیانو دوښمنۍ او سیالۍ د دې سبب وګرځېده، چې خلقیانو د لومړي کال په بهیر کې خپل سیال پرچمیان له افغانستانه په یو او بل نامه وشړل. مرحوم ډاکټرنجیب الله پاکستان ته واواښت او بیا روسانو ته ورغی او ببرک کارمل، فدا محمد دهنشین، اناهیتا راتبزاد او داسې نور لومړی په چکوسلواکیا کې او بیا په مسکو کې مېشت شول او په افغانستان کې به خلقیانو داسې شعارونه ورکول (مرګ بر کارمل اجنت حلقه به ګوش امپریالیزم او د اناهیتا په اړه به یې ویل مرګ بر اناهیتا رقاصه غرب او داسې نور)، خو سلطانعلي ګوسفند د حفیظ الله امین په کام- کمېته امنیت ملي (کشتارګاه امین مر...) کې مبلمه پاتې شو او د سروري په هلو ځلو یې د کوکاکولا او فانتا بوتلونه نوشجان کول، په دې اړه یوه ټوکه هم جوړه شوې وه، وايي چې کله روسانو په افغانستان یرغل وکړ او د خلقیانو د دویم پړاو (د حفیظ الله امین) واکمنۍ ته یې د پای ټکی کېښود، نو وروسته له دې کشتمند صیب د افغانستان صدراعظم شو، نو د کوکاکولا فابرېکې (د کام شرکت) د ګوند مرکزي کومېټې ته یو بېړنی لیک ورواستاوه چې کشتمند یو کېږېږ د کوکاکولا بوتل پوروړی دی او د بوتلونو بیرته ورو لو چارې دې وسنجول شي! طبیعي خبره ده چې سوسیالیستي ایمالې ته اړتیا پیدا شوه.

وروسته د پرچمیانو له ځپلو څخه د خلقیانو په منځ کې هم شخړې رامنځ ته شوې، ښه ویل شوي، چې کله د مېږي مرګ نیږدې شي، نو وزر وباسي! نو د خلقیانو د واکمنو پروازونه هم د ۱۹۷۹ کال په بهیر کې پیل شول. د ۱۹۷۹ م کال د سپتامبر په میاشتې کې ملګري نور محمد تره کي د کیوبا هوانا ته سفر کړی ؤ، چې په کمونیستي دریم انترناسیونال کې ګډون وکړي، خو کله چې بیرته افغانستان ته راستنېدو، نو د بیرته راتګ په ترڅ کې یې د مسکو او د خپل پیر (برنج لوک-بریژنف) زیارت یې وکړ او هلته یې د مسکو په ټینګار د کارمل بیرته راتګ او د حفیظ الله امین د شړلو، وژلو او یا هم ورکولو پلان جوړ کړ، خو کله چې کابل ته راستون شو، نو له نورو ګوابنونو سره مخامخ شو.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

د امین د وژلو لومړی پلان دا ؤ چې له بهر څخه د ملګري نور محمد تره کي د بیرته راتګ په وخت کې د هوایي ډګر په لاره او یا هم په هوایي ډګر کې له منځه یوړل شي یانې ووژل شي، خو حفیظ الله امین مخکې له خپلو ملګرو مالومات تر لاسه کړی ؤ، چې په مسکو کې څه خبرې دي او څه پلانونه، خو د مرحوم نور محمد تره کي د ستنېدو په بهیر کې حفیظ الله امین د تره کي مخې ته د درنښت لپاره ورنغی او نور خلقي لوړ پوړي چارواکي یې ورولېږل. په هوایي ډګر کې ۱۰ دقیقې مخکې له دې چې ملګری نور محمد تره کی له الوتکې راښکته شي، نو د حفیظ الله امین په امر د هوایي ډګر ټولې نظامي برخې او امنیتي څانګې تبدیلې شوې او نوي نظامي ځواکونه د هغوی پر ځای وګومارل شول او ملګری نور محمد تره کی یې ډېر په درنښت ارګ ته راوست.

باید یاده شي، چې د نور محمد تره کي د سفر په الوتکه کې هم کراري نه وه، ځکه چې هغوی ته هم احوال ورکړ شوی ؤ، چې حفیظ الله امین د هغه یانې نور محمد تره کي د مرګ پلان جوړ کړی (چې غل نه وې له پاچا مه وېرېږه !)، خو د تره کي الوتکه یو وار را ښکته کېدله، نو چا ورته ویلي ؤ چې له ښکېبه مو په توغندي ولي !، نو الوتکه بیا بیرته والوتله او نیمه ګړی پر کابل تاوېده راتاوېده، خو د تره کي مړینه په دې ډول په نړیوال کمونیستي سیستم کې ډېرې پوښتنې رامنځ ته کولې او د مسکو لاسوهنه په کې راڅرګند بدله، نو ځکه د مسکو په منځګړوي د نور محمد تره کي الوتکه په کابل کې راښکته شوه او تره کی د خپلې سیاسي کودتا او روسي سپاربښتونو قرباني شو او د ملګري حفیظ الله امین (شاګرد وفا دار) توپ ته لاس ترلی راولېږل شو.

کله چې نور محمد تره کی ارګ (خانه خلق- د خلکو کور) ته راورسېد، نو حفیظ الله امین یې د خبرو اترو په پلمه ارګ ته وروغوښت، چې منځګړوي او ډاډګېرنه یې پوزانوف (Puzanof) د روسیې سفیر په افغانستان کې پر غاړه اخیستې وه، خو کله چې حفیظ الله امین ارګ ته راځي، نو لومړی له ترون سره خبرې کوي او هغه پوښتي چې دلته څوک دي او داود ترون حفیظ الله امین ته ډاډ ورکوي، چې خیریت دی، خو امین باور نه کوي. داود ترون له حفیظ الله امین څخه مخکې کېږي چې د ملاقات کوټې ته ننوځي، خو کله چې ترون ور پرانیزي، نو سملاسي ډزې پرې کېږي او په دې ترڅ کې داود ترون وژل کېږي او حفیظالله امین منډه کوي او په بنز موټر کې تښتي او له دغه پېښې سره سم د شادروان ملګري نور محمد تره کي د مرګ شېبې هم رانیژدې کېږي او حفیظ الله امین له ارګه لرې د نوې کودتا د پلان په پلي کولو لاس پورې کوي.

وروسته له دغه پېښې کله چې ډاکتر زرغون چې د ۴۰۰ کټیز روغتون (چهارصد بستر) ریس ؤ، خبرېږي، نو مخکې له دې چې ونیول شي، له وېرې ځان وژني. مرحوم نور محمد تره کی هم په ارګ کې نیول کېږي او بیا یې سا د وفادار شاګرد په امر د بالښت په مرسته ایستل کېږي او د نابعه شرق واکمني پای ته رسېږي او ستاره شرق ټولواک کېږي، خو د ستاره شرق واکمني له ۱۰۰ ورځو شپو نه اوړي.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

د امین په کودتا کې ځینې پېښې په زړه پورې او د پام وړ دي. څو ورځې وروسته د نور محمد تره کي له مړینې څخه ملګری حفیظ الله امین د جلال آباد ښار د داود ترون په نامه کوي او ترون-ښار یې نوموي او په راډیو کې د ترون په نامه حماسي سندرې هم جوړېږي، چې ولې په دومره خلقیانو کې یوازې مرحوم داود ترون دغه مرتبې ته ورسېد، زه هم نه پوهیږم ! خو داسې ویل کېږي، چې د کودتا په ورځ حفیظ الله امین داود ترون ته دنده سپارلې وه، چې ارګ ته د امین تر راتګه پورې باید نورمحمد تره کی او د هغه نورچوکره ګان له منځه یوسي، نو کله چې حفیظ الله امین ارګ ته راځي، چې ګوري ترون لا په ارګ کې هورې دورې ګرځي او امین داسې ګومان کوي، چې ګواکې ترون هم له نور محمد تره کي سره لاس یو کړی تو د ده په ضد ورسره یو ځای شوی دی، نو په ارګ کې په داود ترون ډزې کوي چې خپلې کودتا ته لاره پرانیزي، له سیمې تښتي او په کودتا لاس پورې کوي، خو وروسته بیا هغه بله پورتنی کیسه رامنځ ته کېږي چې د داود ترون وفاداري حفیظ الله امین ته په ګوته کوي او د ټولو ستونزو عامل تره کی او د هغه ډله وښودل شي.

د روسانو د حفیظ الله امین خپلسري نه خوښېدله، نو د مرحوم حفیظ الله امین د مړینې بل نوی پلان هم د روسانو لخوا جوړ شوی ؤ، ځکه چې مخکې له مخکې یې ټول امکانات ورته جوړ کړي ول. لومړی خو یې په دې پلمه چې ارګ د خلکو کور دی او د موزیم په څېر باید ورته ګټه واخیستل شي، نو حفیظ الله امین یې دې ته وهڅو چې د دارالامان ماڼۍ ته کډه وکړي او هلته مېشت شي، ځکه چې هغه ځای له مرکزه لرې دی او چاپېریال کې یې خلک هم نه اوسېدل او یا لږ کورونه ول (یانې کلابنده سیمه نه وه !)، خو ارګ د کابل په منځ کې ؤ، نو کېدای شوای چې په ارګ کې له روسانو سره ډېر مقاومت شوی وای او د ښار په منځ کې د ډېرو خلکو د وژلو ګواښ هم موجود ؤ، چې د روسانو د ژر برې د مخنیوي سبب ګرځیده، نو ځکه روسانو د خپل سوسیالیستي او انترناسیونالیستي چلند لپاره د دارالامان ماڼۍ د یرغل لپاره یو مناسب ځای غوره کړی ؤ.

په روسي خپرونو کې لیکل کېږي، چې د شوروي اتحاد رهبري د **۱۹۷۹** میلادي کال د ډسامبر په **۱۲** نېټه پرېکړه وکړه، چې په افغانستان کې له کمونیستي واکمنو سره مرسته وشي، یانې د سروپوځونو یرغل تر سره شي، د شوروي اتحاد د کمونیستي ګوند د مرکزي کومېټې د کمېسیون «комиссия Политбюро ЦК КПСС»، چې غړي یې (یوري اندروپوف، اندریې ګرومیکو، دیمیتري او ستینوف او بوریس پاناموریوف « Юрий Андропов, Андрей Громыко, Дмитрий Устинов и Борис Пономарев») ول، چې د سیاسي بیرو د مشر لیونید ایلیچ برژنیف تر څارنې او لارښوونې لاندې یې د **۱۹۷۹** میلادي کال د ډسامبر په **۲۵** نېټه د روسیې د سره پوځ څلوېښتمې قول اوردو په افغانستان نظامي تېری وکړ او د **۳۳۳** – تیري په نامه یانې د «Шторм-333» تر نامه لاندې یې د افغانستان واکمنې نسکوره کړه، چې د افغانستان قانوني واکمن حفیظ الله امین یې په شهادت ورساوه او رفیق کارمل یې د واک په ګدۍ کېناوو.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، تولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

د ۱۹۷۹ م کال د دېسامبر په میاشت کې روسانو پر افغانستان بربنډه یرغل وکړ او د افغانستان قانوني واکمني یې له منځه یووړه او خپل ګوډاګی دولت یې رامنځ ته کړ. د دېسامبر په ۲۷ د روسانو د یرغل په بهیر کې له حفیظ الله امین سره د اړیکو ټینګول نا ممکن ؤ او نظامي خلکو هغه ته د ستاره شرق لقب ورکړی ؤ، خو ټولو به په مخابرو کې ویل چې ستاره شرق یا د ختیز ستوری ورک دی، خو کله چې د دارالامان د ماڼۍ د اخو ډب ولولې پورته شوې، نو ځینو نظامي ځواکونو هم ځانونه چمتو کړل، چې یو څه وکړي، خو ستاره شرق نه موندل کېده، چې امر ترې واخلي.

په دې برخه کې د اتمې (۸) فرقې چارواکو هم لړو ډېرې هلې ځلې کړې وې، چې ما له یوه منصبداره واورېدل، چې قاسم خان د ۸ فرقې د ۷۲ غونډ قوماندان په قرغه کې، سید محمد عارف د میکانیزه کنډک قوماندان او عزیز خان د فرقې قوماندان ځانونه مقاومت ته تیار کړل، خو ستاره شرق ورک ؤ او دوښمن نا مالوم ؤ. کله چې دوی ولیدل چې نا پېژندل شوي ټانکونه د فرقې په لوري ورروان ول، نو د راکټو د چمتو کولو امر یې ورکړ او راکټونه چمتو شول، خو عزیز خان د اوربل امر په برخه کې کاوړتیا وکړه او د سید محمد عارف او قاسم خان مخه یې ونیوله چې په روسانو برید وکړي، چې پایله یې د فرقې تسلیمېدل شول او د هېواد مري توب.

د مرحوم حفیظ الله امین د واکمني په ترځ کې د (مرحله نوین انقلاب ثور) لپاره لاره هواره شوه او د خلقیانو د انتر ناسیونالیزم پایله دا وه، چې روسانو پر افغانستان تېری وکړاو د خلقیانو د واکمني د وروستۍ ستې حفیظ الله امین په وژلو یې خلقي واکمني پای ته ورسوله. د مرحوم حفیظ الله امین په وژنه کې د روسیې (ά) الفا ګروپ برخه اخیستې وه. داسې ویل کېږي چې روسانو د حفیظ الله امین له نسکورېدو وروسته یې سلیمان لایق، نور احمد نور، دستګیر پنجشېري او ببرک کارمل ته د ټولواکي ژمنه کړې وه، خو کله چې د روسانو یرغل تر سره شو، نو ببرک کارمل یې د واک په ګدۍ کېناوۀ، چې د دریو نور د کونجاړو خوبونه یې په اوبو کې لاهو کړل.

پنجشېری د شمال سیمو د محافظت رئیس شو او د شمالي هېوادپاله افغانان یې وځپل. دستګیر پنجشېری هغه اپورچونېست ؤ، چې ټولو استخباراتي سازمانونو ته یې شیطاني کوله، چې خپل موقف وساتي او خلک برباد کړي، چې په خلکو کې داسې پوښتنې کېدلې: هغه څه چې سپک او په اوبو کې نه ډوبېږي څه دي؟ نو خلکو به ویل چې پرېښنه دي یا خوشایه او که دا نه وي، نو هرومرو دستګیر پنجشېری، ځکه نه په ابو کې ډوبېږي او نه هم په سرو لمبو کې سوځېږي. دغه غوړه مال پنجشېری په ټولو واکمنیو کې خپل مضریت د یوې او بلې ډلې په ګټه تر سره کاوه او دغه دواتشه لنینیست او یا هم ستالینیست خلقی اوسمهال امپریالیزم ته پناه وړې او د (Washington DC) په ښار کې مېشت دی او د ستمیانو جنده یې پورته نیولې. هغه نور دوه مارکسیستان یا لنینیستان هم هلته او دلته وګومارل شول، چې اوسمهال نوراحمد نور په هالند یا نیدرلند کې د نامطلوبه شخص (Persona non grata) په نامه یادېږي او نور یو شمېر په کمپونو کې شپې سبا کوي او سلیمان لایق هم د اروپایي امپریالیستانو په سوسیال مرستو شخوند وهي.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

په پورته نومول شویو کې د روسانو لپاره تر ټولو وفادار ملګری دستګیر پنجشېری ؤ، چې د دستګیر پنجشېري رول د روسانو په یرغل او د حفیظ الله په مسمومولو کې ډېر غوره ګڼل کېږي. د روسیې یو نامتو ژورنالېست ( Yevgeni Kiselev ) په خپل یو مستند فلم کې وايي چې د دېسامبر په ۲۷ نېټه د حفیظ الله امین په کور کې مېلمستیا وه، چې په مېلمستیا کې ګڼشمېر لوړ پوړي چارواکي راټول شوي ول او پلمه یې د دستګیر پنجشیري راستنېدل له مسکو څخه کابل ته ؤ، ځکه چې له مسکو به یې ډېرې د سوسیالیستي چلولونو کیسې راوړې وې.

کله چې ماښامنۍ ډوډۍ ته ټول د مېز تر شا کېناستل، نو لومړی ښوروا یا سوپ راوړل کېږي او حفیظ الله امین ټولو ته بلنه ورکوي چې ښوروا وڅښي، خو دستګیر پنجشېری په دې پلمه چې د ګېډې تکلیف لري، نو نه شي کولی چې ښوروا وڅښي او له ځینو شیانو څخه پرهېز دی ! او حفیظ الله امین په ځواب کې ورته وايي چې په مسکو کې یې په خوندورو خوړو آمخته کړی یې او زموږ په سپوره ښوروا دې خیال نه راځي ! او ټول ملګري خاندي. ملګری امین خبرې اوږدوي او له دستګیر پنجشېري پوښتي، چې: په مسکو کې د افغانستان د بدلونونو «د تره کي وژنه» په اړه نظرونه څنګه ول؟ ملګری پنجشېري ورته وايي، چې «په مسکو کې ټول ډېر خوښ دي او د افغانستان د دیموکراتیک ګوند په ننګه به هرکله مرستې ته راودانګي». ملګری امین په ځواب کې وايي، چې «ما خو ویل چې مسکو موږ په مبارزه کې یوازې نه پرېږدي ! !»، چې د دغه خبرو په پای کې لومړی خرپ له سیمې څخه پورته کېږي.

کله چې حفیظ الله امین او نور مېلمانه ښوروا څښي نو سمدلاسه یې په ګېډه کې خوږ راپیدا کېږي، خوبجن کېږي او حفیظ الله امین چې له ځایه پورته کېږي، نو بیرته لوېږي او وايي چې په ډوډۍ کې چا زهر اچولي دي او دا هم یادوي چې (دا کار چا کړی او هغه هم زما په کور کې ! !) په دې وخت کې ۴۰۰ کتېیز روغتون ته او د روسیې سفارت ته تلیفون کېږي، چې امین ته چا زهر ورکړي او باید ژر د هغه روغتیایي چارې وسنجول شي. وروسته له دغه پېښې ټول تښتي او هر څوک خپل کور ته ځان رسوي، هماغه د پاړسو خبره ده چې وايي (موش از ترس پشک غار مېپالید !). داسې ویل کېږي، چې د حفیظ الله امین ګېډه د روسیې د سفارت د ډاکټر او د څهارصد بستر روغتون د (ډاکټرانو) لخوا پریول کېږي، چې وروسته له یو څو شېبو څخه د سیمې او د دارالامان د ماڼۍ بمباري پیل شوه او د امین د خوب پر کوټه بمونه ونښتل او امین ټپي شو او نور یا ووژل شول او یا هم وتښتېدل.

د الفا ګروپ یو غړی وايي چې ده ته دنده سپارل شوې وه چې حفیظ الله امین باید مړ کړي. هغه وايي چې دی د مرحوم حفیظ الله امین کوټې ته ننوتلی ؤ او حفیظ الله امین په بمبارۍ کې وژل شوی ؤ او پرمخې پروت ؤ، نو ما یې مړی راواړوه، ورته مې وکتل او د امین انځور مې له جوبه راوایست او چې ومې لیدل چې دغه مړی د حفیظ الله امین دی، نو تومانچه مې راوایسته او څو ګولۍ مې نور هم وویشت، چې ډاډه شم، چې امین مړ دی.

د دغه ناورین په ترڅ کې ډېر خلک ووژل شول او په روسي خپرونو کې داسې څرګندونې کېږي، چې د حفیظ الله امین یو ۱۴ کلن زوی، چې د روسانو د یرغل په ترڅ کې ژوندی پاتې شوی ؤ، په ډېرمرموز حالت کې ووژل شو او

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

(Kiselev Yevgeni) هم په خپل یو فلم (Tainai Afghanskai Wainai- د افغاني جګړې پټ رازونه) کې داسې ښرګندونې کوي، چې ګواکې د حفیظ الله امین د زوی په وژنه کې ګلاب زوی لاس درلود ، خو زما په ګومان په دې اړه باید هر اړخیزه پلټنه تر سره شي، چې دغه پېښه روښانه شي.

په زړه پورې خبره خو دا ده، چې له حفیظ الله امین سره هغه مانښام ډېر لوړ پوړي چارواکي ول او نن سبا ټول په غربي نړۍ کې ژوند کوي، مګر د افغانستان د پېښو په اړه څه نه لیکي او که یو څه لیکي هم، نو هڅه کوي چې خلقي رنګ ورکړي او واقعیتونو ته په خپله ګټه تغیر ورکړي!!! راتلونکی نسل اوس هم غولوي او په سوسیالیستي دروا غویې روږدي کوي.

د یادونې وړ ده چې د خلقي کمونیزم د مودې سوسیالیستي انترناسیونالیزم هېواد او هېوادوال له ډېرو ناخوالو سره مخامخ کړل، چې د یوه خلقي فرمان په ترڅ کې په سلهاوو نجونې له کورونو څخه وتښتېدلې، چې په پټه یې ودونه وکړل او یا هم تریتام شوې او د بل فرمان په پلې کولو یې د خلکو ځمکې په وچ زور ترې واخیستې او هغوی یې غرونو ته وتښتول، چې پایله یې د مجاهدینو رامنځ ته کېدل او په بهر کې د اسلامي ګوندونو پیاوړي کېدل ول، مګر پوښتنه دا ده چې آیا د افغانستان نورې ځمکې د آبادولو او کرلو لپاره کمې وې، چې دوی د خلکو جوړې ځمکې په زور ووېشلې او د وخت په تېرېدو یې په شاړو ځمکو واړولې، چې په پای کې نه د دوی شوې او نه هم د مخکني څښتن!

د خلقي بنسټپالي په ترڅ کې ټول هېواد په سره رنګ سمبال شوی و، چې د وینو بوی ترې راته او پر دېوالونو او دوکانونو د شعارونو د لیکلو لړۍ هم پیل شوې وه او خلک یې دې ته اړ ایستل چې پر خپلو دوکانونو انقلابي شعارونه راوځړوي. زما د یو ملګري پر دوکان هم داسې یوه سرلیکنه راځړېدلې وه (جاویدان باد صلح)، خو دوکان لوی و او سرلیکنه لنډه وه، نو هغه دې ته اړ ایستل شو، چې یوه بله سرلیکنه هم وځړوي او دویمه سرلیکنه باندې دا شعار و (زنده باد افغانستان) او دا ډول سرلیکنې د ښارونو په ټولو دوکانونو راځړېدلې وې او په سره (انقلابي) رنګ سینګار شوې وې او داسې ګنګوسې وې، چې د دوکانونو د مخې درې او ورونه هم باید په سره انقلابي رنګ رنګ شي، خو د نابغه شرق او ستاره شرق د خپلمنځیو شخړو په ترڅ کې خلقي واکمني له منځه لاړه او د (مرحله نوین انقلاب ثور) په ترڅ کې د خلکو دوکانونه سره نه شول او د دوکانونو انقلابي سرلیکنې هم ورو ورو لیرې شوې.

په کابل کې هم په ګڼشمېر دېوالونو شعارونه لیکل شوي ول او د حبیبیې لیسې په دېوالونو او په تشنابونو کې هم د (خلق) وراشه په هر دیوال لیکل شوې وه، خو خلکو له دغه کلمې سره دومره کرکه لرله، چې د (خلق) د کلمې (خ) یې په (ح) اړولې وه، نو دا وه د بېځایه خلقي کمونیستي-بنسټپالي پایله. باید یاده شي، چې د خلقي نومي ګوند ډېر غړي به پښتانه ول، خو دغه ګوند پښتنو او پښتو ته ډېر تاوان ورورساوه او د افغاني واکمني بنسټ یې له منځه یووړ.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

مرحلـه نـوین انقـلاب ثـور

پرچمي کارملي واکمني: پرچميانو د کمونيستي واکمني په پيل کې له خلقيانو سره ګډه واک ته ورسېدل او دولتي پوستونه يې سم له يو او بل سره نيم ووېشل. دغو ډلو د انقلاب له لومړۍ ورځې د هېوادوالو په وژنه او د هېواد په بربادي لاس پورې کړ، چې د انقلاب په لومړۍ ورځ يې سردار داود خان د افغانستان قانوني واکمن او د هغه د کورنۍ ټول غړي يې ووژل او د ثور په درېيمه يې مولوي عبدالرب د حبيبې ليسې او بيا د شرعياتو د استاد په وژلو لاس پورې کړ، چې په دې ډول د انقلاب په لومړي کال لږ تر لږه ۲۰۰۰۰ انسانان ووژل شول، په زرهاوو نور تريتام شول او په لکهاوو خلک بهر ته کډوال شول.

د (۱۹۷۹) کال د دېسامبر مياشتې پر (۲۷) نېټه روسانو پر افغانستان تېری وکړ، په افغانستان کې يې بل قانوني دولت له منځه يووړ، مرحوم حفيظ الله امين د افغانستان قانوني واکمن يې وواژه او د خلقيانو واکمني ته يې د پای ټکی کېښود، خو ځينو خلقيانو لکه صالح محمد زېری، سيد محمد ګلابزوی، اسلم وطنجار، شانواز تنی، سروري او داسې نورو د روسانو يرغل ته، لکه پرچميانو هرکلی ووېل او له پرچميان او روسانو سره يې ګډ د هېواد په ښکېلاک لاس پورې کړ.






دا څرګنده خبره ده، چې رفيق ببرک کارمل د روسانو پر ټانګ سپور کابل ته راورسېد او خپله لومړنۍ وينا يې هم له تاشکند څخه وکړه او کله چې د افغانستان د راډيو تالار ته راورسېد، نو رفيق سليمان لايق يې هر کلي ته ورمخته شو، خو کارمل ورته ګواښ وکړ، چې ورنيژدې نشي او په خپل ځای ودرېږي، ځکه چې پرچمي سليمان لايق له خلقي واکمنو سره همکاري کړې وه، نو کارمل هم ځان غچ اخيستنې ته تيار کړی ؤ، خو د روسانو له وېرې يې له سليمان لايقه غچ وانشوای اخيستلی، د فارسيوانانو خبره (رفيق کارمل غوره به دل ماند !). کارمل غوښتل له سروري څخه هم غچ واخلي، ځکه چې هغه ډېر پرچميان بنديان کړي ول او ځورولي يې ول، خو ملګري سروري هم له روسانو سره نيژدې اړيکې درلودې او د روسانو په راتګ کې يې وفاداري ښودلې وه، چې وروسته د روسانو له يرغله په بهر کې

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، تولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

سفیر شو او د مرحوم نجیب الله د واکمني له نسکورېدو سره سم د احمد شاه مسعود لاس ته ورغی او نن سبا په پلچرخي کې شپې سبا کوي.

د پرچمیانو په ګوند کې هم ډېر پښتانه ول او ګڼشمېر یې لوړپوړي چارواکي هم ول. د پرچمي سیاسي بېرو ډېرګړي غړي یې پښتانه ول او ډېر غړي یې هغه (انقلابي دو آتشه) پښتانه ول، چې تر ننه پورې د پرچمیانو او روسانو ملاتړ کوي او خپل پښتانه ځېږي. په زړه پورې خبره خو دا ده چې د پرچمي ګوند د سوسیالیستي انترناسیونالیزم تر سیوري لاندې هم د پښتنو او پښتو بېخ وایستل شو. پرچمیانو په رسمي ادارو کې د پښتو لیکلو د مخنیوي هلې ځلې پیل کړې، د دوکانونو، پوهنتونونو، ښوونځیو او رسمي ودانیو سر لیکنې یې په فارسي واړوې. په ښوونځیو کې له پښتو سره تربګني پیل شوه او نور تېرونه یې د پښتنو پر ضد ولمسول، چې د مرحوم رفیق ډاکتر نجیب الله د واکمنې په ترڅ کې د قومي ملېشو د نظامي فرقو جوړولو ته یې لاره پرانیزه، چې د بېلګې په توګه کولی شو د دوستم پهلوان فرقه (جوزجان)، د غفار پهلوان فرقه (سرپل)، رسول پهلوان فرقه (فاریاب)، د نادري پهلوان فرقه (بغلان) او داسې نورې، یادې کړو، خو د پرچمیانو په واکمنې کې یې هم پښتون په پښتون له منځه یووړ.

د روسانو له راتګ سره پرچمیانو ته خدای ورکړه او له پښتنو څخه یې د خلقیانو په نامه غچ اخیستنه پیل کړه او د باندیت او امیني په نامه یې ډېر بې ګناه پښتانه ووژل. د کارمل په واکمنې کې د کابل په پولتخنیک کې یوه پرچمي ډله فعاله وه، چې پښتني ځوانان به یې په یوه او بله پلمه وهل، ډبول، بندیان کول او ځینې دې ته اړ ایستل شول، چې وروسته له ډېرې ځورېدنې انستیتوت پرېږدي او بهر ته وتښتي. په پولتخنیک کې یو وار یو پښتون هلک دومره وهل شوی و، چې سهار یې مخ دوبودو کړی وو او په پوهنځي کې چا نشوای پېژندلی چې څوک دی او هغه ځوان ویل چې زما کوړنۍ ته احوال ورکړې، چې ما دلته وژني، وروسته له څه مودې څخه دغه ځوان تریتام شو، ځینې نور خاد بوتلل او چا چې واسطه نه لرله له ډېرو شکنجو سره مخامخ شول او یو شمېر ځوانان په روحي او رواني ناروغیو اخته شول او انستیتوت یې پرېښود، خو له نیکمرغه باید یاده کړم، چې له هغه دورې څخه ګڼشمېر پوهنپالان او انجینیران اوس هم ژوندي دي، خو له بده مرغه د کارملیانو له هغو سیاسي جنایتونو څخه پرده نه پورته کوي، نه پوهېږم چې ولې؟.

په دې وروستیو کې د جلیل پرشور په نامه یو پرچمی هم په آریایي یا نورو ملي ضد برېښنا پاڼو کې لیکنې کوي او د تش په نامه (روشنفکران مترقي-مترقي روند اندو) تر نامه لاندې یې مداریګري پیل کړې ده. درنو هېوادوالو رفیق جلیل پر شور خپله سوسیالیستي روزنه په بغلان کې د رفیق سلیمان لایق د پلار په ژرنده کې تر لاسه کړې، چې جلیل پر شور ګومان کاوه چې ګواکې د دغه ژرندې د ګټې پیسې د نړیوال سوسیالیزم او پرولتاریا د ودې لپاره کارول کېږي، خو وروسته به پوه شوی وي، چې رفیق سلیمان لایق هسې غولولی ؤ او سوسیالیستي چلند یې ورسره کړی ؤ.

تل افغان
www.talafghan.com
خبلواکه، ناپيلي، تولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه

رفيق جليل پرشور د روسانو له راتګ سره سم د سرپل ولايت په جبهه کې ګڼشمېر پښتانه د اشرار په نامه وځپل او يو څه موده د سمنګان والي هم ؤ، د ښاغلي جليل پر شور کړني په سمنګان کې ټولو ته مالومې دي او پښتنو لا له هېره نه دي ايستلې. کله به چې ښاغلی جليل پرشور د خپل کاره راستنېدو، نو د ماښام لخوا به لومړی د سمنګان بنديخانې ته تلا او هلته به يې هغه بېچاره پښتانه چې د اشرار او يا بانديت په نامه نيول شوي ول، وهل او ډبول، خو کله به چې له مرکزه ياني کابله هم کوم پرچمي رفيق مېلمه ورغی، نو هغه به يې هرو مرو د پښتنو وهلو او ډبولو ته ورباله او ويل به يې (بريم که يک چند تا بانديت خلقي ره سبق بتېم ! !).

وروسته له سمنګانه ښاغلی جليل پر شور د شمال زون رئيس شو او په همدغه کال يې له يوې ارغنديوالې پېغلې سره واده هم وکړ او ډېر په کش او فش کې ؤ، خو يو کال لا نه و تېر چې له دغه دندې لرې شو، چې په مزار شريف کې د يو بل کمونيست-ګوندي په وژلو تورن ګڼل شوی ؤ او يو شمېر نور د ولايت لوړپوړي چارواکي هم په دغه جرم کې شريک ول او وروسته له دغه پېښې له دندې لرې شول او په خاد کې په نورو کارونو وګومارل شول، چې له سترګو پناه شي. د هغه وژل شوي ګوندي په تور يو بل پرچمی ته د اعدام سزا ورکړل شوه. داسې ويل کېږي چې کله هغه پرچمی په پلچرخي کې اعدام کېده، نو ناري به يې وهلې چې دوی له مرکزه امر اخيستی ؤ چې هغه ګوندي بايد ووژل شي او د ببرويي سياسي د پلاني غړي په امر ووژل شو. وروسته له دغو پېښو ښاغلی جليل پر شور په صدارت کې د خاد په څانګه کې وګومارل شو او له سترګو پناه شو، خو په ګوند کې لا مقتدر پاتې شوی ؤ، ځکه چې ډېر خلک يې د سوسياليستي ارمانونو قرباني کړي ول او اوس يې غربي امپرياليزم ته پناه وړې او په سوسياليستي انترناسيونال شخوند وهي.

د خلقيانو په موده کې د کام په نامه يو استخباراتي اورګان ؤ، چې د خلکو به يې د نامه په آورېدو پښې رېږدېدې، وهم به اخيستل او د زړه وښې به يې وچېدلې، خو د رفيق کارمل په موه کې بيا خاد رامنځ ته شو، چې په هېواد کې يې د خلکو په ځپلو، بندي کولو او وژلو لاس پورې کړ. هغه څوک چې په افغانستان کې يا بندي شوي او يا هم د خاد لخوا پوښتل شوي، نو ټول په روحي او جسمي ناروغيو اخته دي. د خاد په اړه هم په افغانستان کې يوه ټوکه جوړه شوې وه: وايي چې يوه ورځ د CIA, KGB او د افغانستان د خاد استازيو له يو او بل سره خبرې کولې، نو هر يو به ټينګار کاوه، چې د هغوی استخباراتي موسسه تر نورو پياوړې ده، نو درېواړه د سيالي ډګر ته ورودانګل، چې نر او ښځه سره مالوم کي. د سيالي شرط دا و چې د استخباراتي هيئت لخوا يوه ګېدړه په يو ځنګل کې خوشې کېږي او د استخباراتي سازمان د غړي دنده دا وه چې ګېدړه ژر تر ژره ونيسي او د سيالي کومېټې ته يې راوړي.

يوه برګه ګېدړه په ځنګل کې خوشې شوه او د CIA استازی د ګېدړې په موندلو او نيولو پيل وکړ، نو امريکايي وروسته له 24 ګړيو په دې وتوانېد، چې ګيدړه سلامته راولي. په دويم وار يې بيا ګيدړه په ځنګله کې خوشې کړه، نو دا وار د KGB استازي ورپسې ودانګل، خو د KGB غړي وکولای شوای چې وروسته له ۴۸ ساعتونو ستړې ستومانه او له بېنو لوېدلې ګېدړه راوړي او ګيدړه يې سمه شنه منه اړولې وه. وروسته له CIA او KGB د افغانستان

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، نابېلي، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه

د خاد استازي د سيالي ډګر ته ورودانګل، خوکله چې ګيدړه په ځنګله کې خوشې شوه، نو افغان خاديست هم ورپسې خې شو. سړی ورک شو، يوه ورځ تېره شوه، د افغان خاديست درک نشته، دويمه ورځ تېره شوه، بيا هم د خاديست احوال مالوم نه شو، خو همدا ډول پوره يوه اونۍ تېره شوه، خو خاديست ورک دی، نو هيئت دا پرېکړه وکړه، چې افغان خاديست راپيدا کړي، نو ټول د خاديست په لټه کې شول. وروسته له څه مودې ګوري چې افغان خاديست يو خر راځملولی او سوټې يې ورته بند کړی او ورته وايي: ووايه چې خر نه يې، مګر ګيدړه يې... نو درنو هېوادوالو دا هم ؤ د افغاني ټولنې غبرګون د خاديستانو د ظلم په اړه.

د ببرک کارمل په موده کې د روسي ځواکونو په مرسته ټول مسلمان افغانان د اشرار په نامه او پښتانه مسلمانان د باندیت په نامه وځپل شول او د افغان ولس بېخ او بنياد يې وايست، خو بايد ياده شي، چې له کارمل سره ګڼشمېر پښتانه هم د افغانانو په ښکېلاک لاس پورې کړ او سوسياليستي انترناسيوناليزم يې پياوړی کړ او د هېواد په ويجاړولو کې يې د زړه له کومې برخه واخيسته او اوسمهال د غربي نړۍ په امپرياليستي-سوسيال شخوند وهي.

## مرحله تکاملـي و نجـات بخـش انقـلاب ثـور

په ۱۹۸۵ م کال په روسيه کې ميخايل سرګېيويچ ګوربچوف واک ته ورسېد، چې په خپلو خبرو کې يې په زغرده څرګنده کړه، چې روسي ځواکونه به له افغانستانه وځي او لومړي ښپږ غونډونه يې د ۱۹۸۶ کال په بهير کې له افغانستانه وايستل او د ګورباچوف د واکمني له پيل سره د کارمل پر ځای د ډاکتر نجيب د ګومارلو ولولې هم رامنځ ته شوې او په ۱۹۸۶ کال د مسکو په ټينګار مرحوم ډاکتر نجيب واک ته ورسېد او روسان د ۱۹۸۹ ميلادي کال د فبروري په ۱۵ نېټه پاېپاکه له افغانستانه ووتل او افغانستان يې له خپلو پرهارونو سره له وينو ډک په ټولنيزه انارشي کې پرېښود.



هغه مهال په کابل کې د ډاکتر نجيب الله ملاتړ د هغه وخت واکمنو خلقيانو وکړ، که څه هم ډاکتر نجيب په خټه پښتون ؤ، مګر هغه هم ځان افغانستاني ستميانو ته سپارلی ؤ او خپل خلقي ملاتړي يې د وخت په تېرېدو سره يو په بل پسې وځپل او افغانستانيان يې ونازول او د دې امکانات يې رامنځ ته کړل، چې يو شمېر افغانستانيان نظامي او اقتصادي مرسته تر لاسه کړي او خپلې نظامي فرقې او ګوندونه جوړ کړي، په امن کې غونډې وکې او له يو او بل

تل افغان
www.talafghan.com
خبري، تاريخي، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه

سره اتحاد وکي، چې د بېلتنوب (سيپاراتيزم) څپې يې وخوځولې او نن سبا هره ډله ټپله د فدراسيون او کونفدراسيون رمباړې وهي.

مرحوم نجيب الله هم په خپلو پښتنو پسې راااخيستې وه، ځيني وايي چې شانواز تڼي په ډاکتر نجيب الله کودتا وکړه، خو د تڼي په کودتا کې يو شمېر پېښې ډېرې په زړه پورې دي. زه کوم نظامي څانګپوه نه يم، مګر کله چې د دفاع وزارت له مرکزي قول اوردو څخه د جمهوري رياست ګارد او مرکزي ګارنيزون بېل کړې، نو په دفاع وزارت کې څه پاتې شول؟ او بل دا چې د کورنيو چارو له وزارت څخه د کابل ښار قوماندانۍ د ګارنيزون تر واکمنۍ لاندې راولې، نو کورنيو چارو وزارت ته د هېواد په پلازمينه کابل کې څه پاتې شول؟ له بل پلوه د خاد رياست په وزارت واوښت او د پرسونل شمېر يې د دفاع وزارت او د کورنيو چارو وزارت په پرتله څو ځله ډېر او اقتصادي ستنه يې د مرکز په مرسته او روسانو په سپارښت سمبالې ده، نو دا کودتا د چا وه؟ د مرحوم نجيب او که د ملګري شانواز تڼي! په پښتو کې ويل شوي، چې: په خپل سوري کې ګېدړه هم خوله اچوي! نو خلقيان دا سې کونج ته شوي ول، چې بل څه نه ؤ ورته پاتې او دې ته اړ ايستل شول، چې د مرحوم ډاکتر نجيب پر ضد پر کودتا لاس پورې کړي، چې د خلقيانو په ناکامۍ سر ته ورسېده او پايله يې دا وه، چې د کابل يوه سيمه رنګه شوه او د کودتا په نامه ګڼشمېر پښتني نظامي او غير نظامي کدرونه د پرچميانو لخوا له تېغه تېر شول، چې د دغه غچ اخيستنې په ترڅ کې ارکانحرب آصف شور او نور تکړه افغاني کدرونه هم ووژل شول. د دغه غميزې يو مسؤل کس، چې نبي عظيمي نومي او د ډاکتر نجيب الله په واکمنۍ کې لويدرستيز ؤ، پخپل کتاب (اردوی افغانستان در سه دهه اخير) کې د دغه کودتا په ترڅ کې د انسان وژنې په اړه د جنرال بابه جان بنسټيز رول په ګوته کوي او ليکي چې بابه جان له سلو ډېر پښتنانه نظامي کدرونه ووژل، چې د ملا کرزي په واکمنۍ کې د شمال سيمې د ۳۰۳ فرقې قوماندان دی.

د دغه کودتا په اړه د افغاني ټولنې غبرګون د يوې ټوکې په ترڅ کې داسې راڅرګند شوی دی: وايي چې د کودتا پر مهال ځينو لوړپوړو افغاني چارواکو د چين له سفارته پناهندګي غوښتې وه، ځکه چې دغه سفارت د ارګ تر شاه وو او نيژدې هم وو، نو دغه سفارت ته وردانګل سخت نه ول. په پناه غوښتونکو کې نجيب الله، کارمل که کارغل او سلطانعلي ګوسفند هم ول، خو د چين سفارت له مقراراتو سره سم هر پناهنده بايد چينايي نوم ولري، نو ځکه اړ شول، چې دغه لوړپوړو چارواکو ته چينايي نومونه وټاکي، نو ځکه يې د هغوي له ځانګړتياوو سره سم نومونه غوره کړل. نو د لومړي په اړه ويوښتل شول، چې مشخصات يې څه دي، نو د کمونيستانو استازي ووېل، چې هغه په ونه جګ، غولپيکره او پلن کونی دی، نو چينايانو ورته د (کون چون ټانګ) نوم وټاکه، د دويم په اړه يې ووېل، چې مخ يې تور، پزه يې کږه او ټيټه ونه لري، نو د چين سفارت ورته (قد چون ک..) نوم غوره وګاڼه او د دريم ځانګړتياوې يې په لاندې ډول په ګوته کړې: غټ سر، لنډه پېرړه غاړه، ګرد مخ او ځړېدلې غومبورې لري، نو چينايانو ورته د (روی چون کون) نوم وټاکه، خو د تڼي کودتا ناکامه شوه، دغه بګېل واکمن هم پر ځای پاتې شول او بدمرغي يې پښتنو ته پربښودله.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپېيلې، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه

درنو لوستونکو ! پښتني ضد هلې ځلې وروسته د تنې له کودتا څخه نورې هم پیاوړې شوې او د ګلمجمانو (دوستم پهلوان، رسول پهلوان، غفار پهلوان)، یاغیانو (عصمت مسلم، رسول بېخدا، سېد داود، سید احمد)، باغیانو (علي مزاري، اکبري، نادري) او د نورو ډلو ټپلو لنډغران کابل ته راورسېدل او په کابل کې يې ټولنيز امنيت له منځه يووړ او ګلمجمانو په پښتني سيمو (کندهار، پکتيا، وردګ او داسې نورو...) د يرغل او بريدونو واک د ډاکټرنجيب الله له ملاتړ سره ترلاسه کړ او دا يې شعار ؤ (مال يې ستا سر يې زما !) او د دغو لنډغرانو د بريدونو پايله د افغانانو تباهي وه او د هېواد بربادي، ګنشمېر خلک د ټوپکسالارانو قرباني شول او د خلکو په مال او عزت تېرى وشو.

په ۱۹۹۰ م کال په کابل کې د ګلمجمانو غوبل روان ؤ او د هزاره ګانو په موټرو د خميني انځورونه ځړېدل او په تکيه خانو کې د ايران په پلوي غونډې جوړېدې او د کابل ښار د ببلابېلو ډلو د سيالي او جګړو ډګر ګرځېدلى ؤ. خلکو داسې ځرګندونې کولې، چې ګواکې د کابل په پوستو کې ګلمجمان خلک ځوروي او حتى دا چې د خلکو په ښځو تېرى کوي، نو د کابل چاپېريال د پښتني سيمو ځيني خلک ډاکتر نجيب ته ورغلي ول، چې په دې اړه مرسته ترلاسه کړي، خو د مرحوم ډاکتر نجيب ځواب دا ؤ: ګلمجم (قوماندان نجم الدين) او دوستم ما ساتي، تاسو پښتنو زما سره څه کړي ! عسکر مو راکړي؟ نه !، له دولت سره مو مرسته کړې؟ نه ! او کافر هم راته وايي، تني مو کودتا راباندې وکړه، مګر اوزبکان، هزاره ګان او تاجکان مې ساتي !، نو بيا تاسو څه را څخه غواړئ ! ځئ په مخه مو ښه !، نو دا خبرې خلکو په کابل کې کولې او له ډاکتر نجيبه ډېر خواشيني ول.

کارملیانوهم په خپل وار هڅه کوله چې د مرحوم ډاکتر نجيب پر ضد کودتا وکړي او په يوه غونډه کې ببرک کارمل ښاغلي مجيد سربلند ته ويلي ؤ، چې: مه ای بچی اختر آخر جزا مېتم ! ! دېګ کی برای ما جوش نیمخوره دراو ګوه بجوشد ! !، نو درنو لوستونکو د قدرت خوند د دغو کمونيستانو سترګې لنډې او زړونه يې مردار کړي ول. ډاکتر نجيب هم د واک په خمار کی لاهو ؤ او د نجيب په واکمني کې په پښتني سيمو د سکاډ، اورګان او لونا راکټونو غوبل جوړ ؤ، خو دې ته يې پام نه ؤ چې خپل خلک بربادوي. د نجيب الله واکمني هم د ده د دوستانو لخوا نسکوره شوه، چې د نجيب الله د واکمني په نسکورېدو کې د دوستم مليشو بنسټيز رول درلود او ګوندي کودتا بيا کارملیانو (نجم الدين کاوياني، وکيل، مزدک، عظيمي، دلاور خان او داسې نورو) پرې وکړه، چې له واکه د لرې کېدو زېرى يې د رفيق سليمان لايق له خولې په سپکو الفاظو واورېد، چې بيا ملګري اسلم وطنجار ورته ويلي ؤ چې: رفيق لايق در بحث تان از فيصله حزب کنار نرويد !.

وروسته له دې پېښې ډاکتر نجيب هم پښې سپکې کړې او د هوايي ډګر په لاره د تېښتې په ترځ کې د ګلمجم لنډغرانو ونيو او له هوايي ډګره د بيرته راستنېدو پر مهال د ملل متحد دفتر ته ننوت او هلته يې پناه وغوښته. د ډاکتر نجيب د واکمني د نسکورېدو په بهير کې ځيني لوړ پوړي چارواکي هم په مرموز ډول ووژل شول، چې د خاد وزير يعقوبي هم د وري په ۲۷ نېټه ووژل شو، چې د هغه په وژنه کې يار محمد مزدک او باقر فرئين ګرم ګډل کېږي، ډېره په زړه پورې ده، چې يعقوبي په هغه شپه د شپې په ۱ بجه له مرحوم ډاکتر نجيب الله سره د هېواد د ستونزو په اړه

تل افغان
www.talafghan.com
خبراوه، تاپيلي، توليزه او فرهنګي ويب پانه

خبرې کړې وې، خو د ورې په ۲۷ نېټه د ورځې د ۷ او ۸ بجو په ترڅ کې په کينه شقيقه ويشتل شوی ؤ، د مرحوم يعقوبي مړی د عدلي طب د کميسيون لخوا وليدل شو، چې په دغه کميسيون کې د يعقوبي ورور (د صحت عامې معين)، ډاکتر موسی وردګ، ډاکتر سهيلا (جنرال سهيلا)، عبدالحق علومي (چې د نظار شورا د لنډغرانو لخوا د ۱۹۹۲ کال په ترڅ کې ووژل شو) او ځينې نورو ګډون درلود. وروسته له څو خبرو د مرحوم يعقوبي ورور وويل!! (فاروق جان را آزار ندهيد! من قبول دارم که ګويا خودکشي کرده!). له عدلي راپوره داسې څرګندېدله چې يعقوبي په کينه شقيقه ويشتل شوی دی، خو که څوک سم فکر وکي، نو مرحوم فاروق يعقوبي کيڼلاسی نه ؤ او د ځان وژلو لپاره يې ښيې شقيقه هم نيژدې وه او هم آسانه، نو زه نه پوهېږم، چې هغه د خپل ژوند په وروستيو شېبو کې ولې ځان په کينه شقيقه وويشت! کېدی شي، د يعقوبي د مړيني سبب د هغه د مېز د روک يو ميليون ډالره وي، چې نورو ته يې له خپل مرګه مخکې ښودلې وې او يا هم د يعقوبي سياسي تجربې بل يا سياسي واک!

وروسته له يعقوبي څخه نور خلک هم ووژل شول، چې د تورن جنرال باقي، چې د يعقوبي معاون او د خاد د ۵ اداري رئيس هم ؤ په ډېره مرموزه توګه ووژل شو. مرحوم باقي په خټه ځدران پښتون ؤ او د پولتخنيک ديپلوم انجينير ؤ. جنرال باقي د حمل په ۲۷ نېټه د ۱۰ او ۱۱ بجو په ترڅ کې ووژل شو. د جنرال باقي په وژنه کې سيد اکبر نومی او جنرال بابه جان، چې د ۵۵ ليوا قوماندان ؤ او د خاد په ۵ اداري پورې يې اړه لرله، ګرم ګڼل کېږي. درنو هېوادوالو د ډاکتر نجيب د واکمنې له نسکورېدو سره سم په افغانستان کې د انسان وژنې او بربادۍ بله برېوکې رامنځ ته شوه، چې لوبغاړي يې مجاهدين او که مجاهلين ول او پايله يې ملکولطوايفي او د افغانستان د ټوټې کېدلو ګواښ ؤ.

د نجيب الله د واکمنې له نسکورېدو سره سم کمونيستانو هم پښې سپکې کړې، څوک مسکو ته وتښتېدل او څوک هم نورو ملکونو ته، خو په پای کې افغاني کمونيستان په امپرياليستي غرب او امريکا کې سره راټول شول او د سوسياليستي شوروي (روسيې) پر ځای يې خونخوار امپرياليست ښه وګاڼه او د سوسيال په خوړلو يې خپل سوسياليستي شخوند پيل کړ، خو لمر په دوو ګوتو نه پټېږي، ځکه چې په بهر کې هم دوی کرار و نه مونده او په بهر کې ظالم او مظلوم دواړه سره مخامخ شول، په چا چې ظلم شوی ؤ، نو په ظالم يې عرض وکړ او ګڼشمېر کمونيستان نن سبا په جېلونو کې شپې سبا کوي او خپلو اولادو ته مړسترګي دي، ځکه چې د دوی له کمونيستي ظلمونو په بهر کې روزل شوي ماشومان يې هم خبر شول او د زغم منطق ورته نه شي موندلی او خپل پلرونه ګرم ګڼي.

داسې ويل کېږي، چې په يو بهرني ملک کې د افغانانو په يوه مظاهره کې يوه حامله داره مېرمن له يوه لوړ پوړي کمونيست سره مخامخ شوې وه، نو د هغه له لېدو سره يې له وېرې او يا هم له کرکې ډېر فشار پرې راغلی ؤ او په نس يې درد شوی ؤ، چې په نس اولاد يې د نقصان له ګواښ سره مخامخ شوی ؤ. مېرمن روغتون ته استول کېږي. د هغه ملک چاروا کو وروسته له څېړنو له هغه مېرمنې اورېدلي ؤ، چې کله دا تنکۍ ځوانه وه، نو مېړه يې په جهاد کې وژل شوی ؤ او له مجبوريته کمونيستي دولت ته په پناه راغلې وه او د مزار شريف په ښار کې مېشته وه، چې کور يې د کمونيستانو لخوا ځارل کېده او د تېښتې امکانات يې نه درلودل.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپېيلې، ټولنيزه او فرهنګي وېب پاڼه

په دغه مېرمن د اوږدې مودې په ترڅ کې د سيمې د کمونيستي چارواکو لخوا ګروپي جنسي تېری کېده او څو ځلې د مرګ تر پولې رسېدلې وه، چې وروسته له اوږدې مودې په تېښتې بريالۍ شوې وه، خو په اوروپا کې د مظاهرې په ترڅ کې له هغه چا سره مخامخ شوې وه، چې په دې يې جنسي تيری کړی ؤ. د دغه شخص په اړه څېړنې پيل شوي دي، خو دغه شخص وروسته له دغه پېښې له هغه مخکني ملکه تښتېدلی او اوسمهال په المان کې پټ دی. د يادونې وړ ده چې په اوروپا کې لږترلږه ۸۰۰۰ افغانان په جنګي جرمونو تورن دي، چې نن يا سبا به خپله سزا ووينې، خو پښتو متل دی، چې په اورکی هم وچ او هم لامده سوځي !.

يادونه: درنو هېوادوالو ! په کمونيستي سازمانونو کې نورې دوآتشه سرې ډلې ماويستي ګروپونه دي، چې د ساما ، شعلې جاوېد ، سزا او داسې نورو نومونو لاندې د افغاني ارزښتونو ضد ، ماوېدونکې کمونيستي فعاليتونه کوي او اوس هم د هېواد په منحرفولو کې د زړه له کومې هلې ځلې کوي او په خپلو بربښنا پاڼو کې د مارکسيزم، لېنينيزم، ماوئيزم او کمونيزم سرو لمبو ته لمنه وهي، چې ګواکې اور يې مړ نه شي، ځکه چې مارکسيزم په اوروپا کې، لېنينيزم په روسيه کې او ماوئيزم په چين کې د آزاد بازار له ګواښ او ودې سره مخامخ شول، چې په هره سيمه کې د خپلو نيمګړتياوو سره سم د کمونيزم په کنده کې نسکور شول.

په افغانستان کې ماويستان هم له افغانيت سره کرکه لري او په نړۍ کې د سوسيال-تروريستي ګروپونو په نامه يادېږي، ځکه چې افغاني ماويستانو په ګڼشمېر سياسي تروړونو کې لاس درلود او د سردار داود خان د واکمنې د پلان رئيس علی احمد خرم او د کمونيستانو په واکمنې کې د امريکا د سفير په وژنه کې ماويستان ګرم ګڼل کېږي او د کمونيستي خاد لخوا د مجيد کلکاني د وژلو په غچ اخيستنه يې لاس پورې کړ چې د ۱۳۶۰ کال په پيل کې د کابل د حبيبيې لېسې مخې ته د کمونيستي خاد د يو شمېر لوړپوړو چارواکو په ترور پای ته ورسېد. دغو ډلو ته هم لکه خلکيانو او پرچميانو غوندې کومه آيډيالوژي هدف نه دی، بلکې واک ته د رسېدلو وسيله ده !

## پايله

د افغاني کيڼ اړخو واکمنيو په بهير کې افغانستان د سوسياليستي او کمونيستي ايديالوژي قرباني شو ، خو له بده مرغه، چې افغاني کيڼ اړخي خپلې چپي ايدياليوژی ته هم وفادار نه ول او افغانستان يې د خپلو خپلمنځيو شخړو وزلوبه وګرځاوه، چې د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې يې تبريز، کولتوري او سياسي حساسيتونه رامنځ ته کړل او افغانستان يې د خلکيتوب او پرچميتوب په ژرنده کې اوړه کړ.

د چپيانو په واکمنې کې د افغانستان وګړي په وينو کې ولمبول شول، هجرت ته اړ شول او په ميليونونو خلک ووژل شول، ښځې مو کونډې شوې، ماشومان مو يتيم شول او په لکهاوو څه چې په ميليونونو خلک مو معيوب شول او د

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

انقلابي اخوډب سره په پای کې ګڼشمېر افغاني کمونیستان او یا سوسیالیستان هم لوېدېزې نړۍ ته مهاجر شول، چې هم خپله له بدمرغیو سره مخامخ شول او هم یې اولاده ترې پردۍ شوه، ځکه چې ماشومان یې په پردېسي کې په بېلابېلو ملکونو کې لوی شول او له افغاني هویته لرې پاتې شول، چې جبران یې افغاني کورنیو او افغاني ټولنې ته ناشونی دی.

په درنښت

ستاسو د برې په تمه